# بادام: د ځمکي ودانول

ټيلفون: 977-758-0799 برېښناليك: **javid.hamidzada@rootsofpeace.org**

## *د ځمکي ودانول څه دي؟*

د ځمکي ودانول د هغو فعاليتونو څخه عبارت دي چي د يو بوزغلي يا بڼ د تاسيس لپاره اړين دي . د بوزغلي او بڼ لپاره د ځمکي ودانول يوډول دي.

## *خپله ځمکه څنګه وادنوئ؟*

**يادونه:** بڼ يوه ۲۵-۲۰ کلنه پانګه اچونه ده، له دې کبله په پيل کې وخت په کار واچوي ترڅو ځمکه په سمه توګه چمتو او ودانه کړي.

### د ځمکي چمتو کول

- يوې: ځمکه يوې کړئ اوښه ژوره يې و څېرئ، لږ ترلږه يو متر.
- ضدعفوني کول: د امريکا په متحده ايالاتو کې ځمکه معمولاً ضدعفوني کيږي. د توليدونکوټول ليبلونه ولولئ اوټولي مصؤنيتي کړنلاري تعقيب کړئ.
- د جوو يا پولو جوړول: په ځمکه کې جوې وباسي. د جوو ويستل د اوبو د سطحې څخه د ونې د تاج په لوړ ساتلو کې مرسته کوي.
  - o د کتارونو د ۴.۵ متره ويڼن څخه معمولاً د ېونو لپارګټه اخستل کيږي.
  - o د بوزغلي ونو لپاره ۲-۱ متره پوري

### اوبه کول

- خړوبول (اوبه ګول د سين د خړو اوبو په واسطه): د سر او پای غوچوړو ته د اړتيا په اندازه وده ورکوي. داسي يو سيسټم ته وده ورکوي چې د اوبو د دريدلو او پريمانه اوبه کيدو څخه مخنيوی کوي.
- د څاڅکو په واسطه \کوچنۍ اوبه ګونه: ځمکه د اوبو اغيزمنو رسيدلو ته برابروي

### سره

- بڼونه: په پسرلي او دوبي کې د NPK شاوخوا ۵۰ واحده تطبيق کړئ. د يوې موزونې سرې (مثلاً ۱۵:۱۵:۱۵) ۰.۱۵ کليګرامه (د غذايي موادو د کوچني کنډولي په اندازه) د هرې ونې لپاره استعمال کړئ. د سرې ورکولو شمير د ونو د روغتيا او د خاورې دبښيرازی په بنسټ عيار کړئ. د ډيران سره هم که موجوده وي پرې اضافه کړئ. د نيالګيو په غوچوړو کې سره مه اچوي.
- بوزغلي : د اړتيا سره سم ورته سره ورکړئ ترڅو نيالګي په‌ښه وده کې وساتل شي

### د حشراتو کنټرول

- د حشراتو څارنه وکړئ او د اړتيا سره سم پرې درمل وشيندئ ترڅو د ونو د څوکو وده روغه رښتيه وساتل شي. هرکله د درمل توليدونکو مصؤنيتي لارښونې تعقيب کړئ.
- تړولو معمول حشرات عبارت دي له: سپږی، د شفتالو د ونو سوري کوونکي، د ميوو ختيځي (آسيايي) پتګان او کله-کله هم کنې.

### د سيمي (کروندو) نوبت

- د بوزغليو سيمې په نوبت کيږي
- د عين ځمکې څخه د بوزغلي نګښتي اخستلو لپاره ۳-۲ کاله مسافه ورکړئ
- غله جات لکه غنم يا وربشي وکرئ- چې د چينجيو لپاره نه کوربه کيږي

**د جان ډرايور، کورلکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت**

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، دبېوالی د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل‌ټيلفون 794677212 (0) 93+،
zach@rootsofpeace.org

ددې خپرونې د محتوی مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي‌ټول حقوق خوندي دي.

**د ډيرو معلوماتو لپاره د:** www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu **مراجعه وشي**